مطبوعاتي اعلامیه

## دغه مقاله د ۲۴/۷/۲۰۱۹مه د الحورة ويبپاڼې له لوري د خپرې شوې مقالې د لاندې سرليک په ځواب کې ليکل شوې ده :

## «حزب التحرير غواړي په سوډان کې د خلافت دولت تاسيس کړي»

زموږ ځواب په لاندې ډول دی:

د بابکر فيصل ورور له لوري ليکل شوې مقاله هېڅ څرګند بنسټ نه لري، ځکه چې نوموړي هڅه کړې چې پر حزب تحرير بريد وکړي او نوموړی ناسم تورونه پورې کوي. نوموړی ادعا کوي چې ګواکي د عمر البشير پخوانی نظام يو اسلامي نظام و او دې پايلې ته رسېدلی چې حزب تحرير هم غواړي کټ مټ لکه د البشير په څېر نظام پلی کړي. وروسته پرته له دې چې موږ په حقيقت پوه شو شعارونو او د احساساتو څپو ته لمن وهي. د دې لپاره چې انصاف مو په پام کې نيولی وي موږ يې د مقالې ځواب په بشپړه توګه داسې څېړو.

ليکوال ويلي: «*د سوډان د ميليونونو خلکو غوښتنې له هغو شعارونو سره چې د آزادۍ، سولې او عدالت لپاره يې پورته کړي وو او کوڅې يې په لاريونونو ډکې کړې وې همغږې دي.*» موږ په ډاډ سره ويلی شو چې کله خلک د باندې راووتل، دوی له خپلو ځانونو سره د آزادۍ، سولې او عدالت شعارونه هېڅ نه لرل، سربېره پردې چې دوی د پانګوال «...ډيموکراټيک يا ډيکټاتوري» نظام د ظلم د پلي کېدو په پايله کې لاريونونو ته اړ شوي وو.

کوم چا چې دا شعارونو له ځان سره درلودل هغه  يو مشهور سازمان دی چې د ځوانانو د انقلاب په منځ کې نوتی و. دوی ادعا کوله چې د دې لاريونونو مشري پر غاړه لري او تر اوسه هم په همدې اړه لګيا دي خبرې کوي، که څه هم دوی پوهېږي چې لاريون کوونکي د دوی پيروان نه وو، بلکې هغه څه چې دوی يې لاريون ته اړ کړي وو، هغه د حاکم نظام ظلم و، چې موږ يې وړاندې يادونه وکړه. دوی د عدالت او ښه ژوند غوښتونکي وو. موږ ښکاره وايو چې د اسلامي نظام پرته عدالت ناشونی دی، توپير نه کوي چې ليکوال يې مني او که نه ځکه الله تعالی فرمايي:

**﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾**

**«څوک چې د الله تعالی له نازل کړي قانون سره سمې پرېکړې ونه کړي، ظالمان دي» [المائده: ۴۴]**

*د ليکوال د وينا لپاره چې وايي: «له شک پرته حزب تحرير له پوځ (د قدرت او ملاتړ خلکو) څخه غواړي چې د خلافت نظام د تاسيس لپاره دوی ته قدرت وروسپاري. په داسې حال کې چې دا غوښتنه د پاڅون کوونکو له شعار سره چې مدني دولت غواړي مغايرت لري. د خلافت او مدني دولت اساسات يو له بل سره په بشپړه توګه مخالفت لري؛ مدني دولت پر نشنليزم ولاړ دی او د خلافت دولت پر دين ولاړ دی او د خلافت په دولت کې غيرمسلمانان داسې انګيرې چې ګواکي دوی دوهمه درجه وګړي دي.»*

د پورتنۍ وینا په لومړي سر کې حقیقت نغښتی، خو په وروستۍ برخه کې یې دوکه ښکاري. رښتیا هم مدني دولت له خلافت سره په بشپړه توګه په ټکر کې دی، ځکه چې خلافت د نړۍ د ستر ځښتن رب تعالی پر اصولو او قوانینو ولاړ دی، خو مدني دولت د بې لارو او ناپوهو کسانو د نفسي غوښتنو پر اساس ولاړ دی. الله تعالی د دوی په اړه ښکاره وایي:

﴿**أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ**﴾

**[المائده: ۵۰]**

***ژباړه: که دوی د الله تعالی له قانون څخه مخ اړوي نو ایا دوی بیا د جاهلیت فیصله غواړي؟ په داسې حال کې چې څوک په الله تعالی باور لري، د هغوی په نزد له الله تعالی څخه غوره فیصله کوونکی هېڅ نشته.***

بل ځای کې فرمایي:

﴿**ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِّنَ الأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلا تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ**﴾

[الجاثیه: ۱۸]

*ژباړه: له دې وروسته اوس [اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم!] موږ د دین په اړه په یوه سمه روښانه لاره (شریعت) برابر کړی یې. له همدې امله پر هماغه لاره ولاړ شه او د هغو کسانو د نفسي غوښتنو پیروي مه کوه چې پوهه نه لري.*

دا چې وایي غیر مسلمانان دویمه درجه اوسېدونکي دي په بشپړه توګه ناسمه ادعا ده او یوازې د خلکو منحرفول دي؛ ځکه هر څوک که هغه مسلمان وي او که غیر مسلمان چې د اسلامي دولت تابعیت ولري د اسلام ترځانګړو شرایطو لاندې له ټولو حقونو او اړتیاوو څخه خوند اخیستلای شي. د بېلګې په ډول واکمن باید غیر مسلمان نه وي، که نه تاسو غواړئ چې یو غیر مسلمان پر اسلام واکمن وي؟

د داسې تورونو پر وړاندې د مومنانو د مشر علی رضی الله تعالی عنه او یوه یهودي ترمنځ د ډال پر سر د هغې دعوې بېلګه چې د محکمې واک یې د یوه داسې قاضي په لاس کې و چې د یهودي خوښ و خورا مشهوره ده کافي بولو.

لیکوال همدا راز لیکي: «حزب التحریر نه یوازې د دین پر اساس د دولت تاسیس غواړي، بلکې دوی په ډیموکراسۍ هېڅ باور نه لري او وایي دا یو کفري نظام دی او داسې نور...» موږ ده ته وایو، چې ډیموکراسي یو کفري نظام دی، پلې کول یې حرام دي او په دې اړه موږ ښکاره ثبوتونه لرو. مګر لیکوال چېرته دی چې داسې ثبوتونه وړاندې کړي چې ډیموکراسۍ ته جواز ورکړي او ووایي چې ډیموکراسي له اسلام سره مخالفت نه لري؟!

لیکوال بیا تکراروي: *«داسې یو ملت چې د ژوند ټولې برخې یې پر اسلام ولاړې وي، یو ایډیولوژیک خیال دی»* هغه دا خبره دوه ځلې تکرار کړې او په دې سره یې پای ته رسولې: *«له شک پرته حزب تحریر هم نورو*

*اسلامي سياسي گوندونو غوندې دی او د خلافت د تاسيس پړاو او د حاکم د ټاکلو لپاره يو څرګند ليدلوری نه لري.))*

رښتيا هم نوموړي ته عجيبه او د حيرانتيا وړ خبره برېښي ځکه چې دی له ظالم لوېديځ څخه د حل لار غواړي، حزب تحرير اسلامي ژوند د نبوت پر اساس د دويم راشده خلافت په خپل بلوري ليدلوري سره تشريح کوي او دا غلطه ادعا ده چې دا حل لاره ګواکي ايډيالوژيک خيال دی. لويه بد بختي دا ده چې د ساينس، عصريتوب، مدني دولت او نور ځلېدونکي شعارونه نه شي کولای د پانګوال ظالم نظام په چوکاټ کې د امت ستونزو ته د حل لار ومومي.

له شک پرته د دوی بدبختي له خپلې ناپوهۍ څخه سرچينه اخلي؛ که ليکوال په خپلو الفاظو ايمان لري بايد د اسلامي دولت په اړه د حزب تحرير اساسي قانون د سياسي، ټولنيزو، اقتصادي او د نني واقعيت په اړه د شرعي قانون حل لارې لږ تر لږه يو ځل ولولي بيا کولای شي له پوهې سره سم په دې اړه خپل نظر وړاندې کړي، خو موږ يو شی ويلی شو چې انسان تل د خپلې ناپوهۍ دښمن وي! سربېره پر دې، موږ دغه ليکوال بابکر فيصل ته تر يو ځل ډېره بلنه ورکړې چې له موږ سره کېنې خبرې وکړي خو هغه بيا هم په حزب تحرير خپلو برېدونو ته پرته له دې چې د حزب په اړه په څه پوه شي يوازې هغه څه چې يې زموږ په اړه  اورېدلي ادامه ورکوي!! موږ بيا هم له هغه څخه غواړو چې مهرباني وکړئ يو ځل له موږ سره وګورئ او د حزب تحرير پروژې ته نږدې راشئ او هره وړه يا ستره پوښتنه چې لرئ له موږ يې وپوښتئ، ځکه دی ادعا لري  چې مقالې يې له ګومان او شک پرته د پوهې او پېژندنې سره سمې خپرېږي.

**ابراهيم عثمان (ابو خليل)**

**د حزب تحرير ولايه سوډان مطبوعاتي دفتر**

**رسمي وياند**

**د صدور ګڼه: HTS 1440 / 61**

**۱۴۴۰ د ذوالعقعدې ۲۶مه**

**۲۰۱۹ د جولای ۲۹مه**